# د صابر پیا کَلیَرِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حِکایات

پښتو





پیشکش: مجلس المدینۃ العلمیۃ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د كتاب لوستلو دُعا

ديني كتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخكښې دا لاندې دُعا لولئ اِنْ شَآءَالله څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې كيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِكمت دروازے برسيره [يعني بيرته] كړې او په مونږه خپل رحمت رانازل كړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج ص۰ دار الفكر بيروت)

(اول او آخر كښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالب غم
مدينه بقيع
ومغفرت

د رسالے نوم: د صابر پيا كَلْيَرِي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ حكايات

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه عالمي مدني مركز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه كراچئ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ كولو اجازت نشته

كتاب اخستونكي توجّه اوكړئ

كه د كتاب په طباعت كښې څه ښكاره خامي وي يا پاڼړې كمې وي يا په بائنډِنګ كښې مخكښې وروسته لګيدلې وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوكړئ.

# د صابِر پیا کَلْیَرِي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ حکايات

شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ دا رِساله "صابِر پِيا کَلْيَرِي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ کی حکايات" په اردو ژبه کښې ليکلي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دي رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب دَ ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دي ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اوموميء نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د صابِر پیا کَلْیَرِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه حکايات

**دعائے عطّار:** یا ربّ کریم! چې خوك دا رساله "**د صابر پیا کَلْیَرِي** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه **حِکایات**" اولولي یا ئې واوري نو هغه د اولیاء کرامو با ادبه جوړ کړې او بے حسابه مغفرت ئې نصیب کړے.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د الله پاك حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: چا چې په ما باندې یو ځل درود شریف اولوستلو الله پاك په هغه باندې لس رحمتونه لیږي. (مسلم شریف، ص۲۱٦ حدیث۴۰۸)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## فرمانبردار مُرید

د سلسله عالیه چشتیه د عظیم بزرګ حضرت بابا فرید الدّین مسعود ګنجِ شکر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په بارګاه کښې د هغوئي خوَرَئے چې د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مُرید هُم وو هغه د علمِ دین حاصلولو د پاره راغلو نو د تولو نه مخکښې ئې ورته د فرضو او نفلو لمُونځونو د استقامت کولو نصیحت اوفرمائیلو

او د لنګر خانے ذمه واري ئې ورکړه. ولے چې پير و مرشد ورته د لنګر تقسيمولو حکم کړے وو خو د هغې نه ئې ورته ېخپله د خوراك کولو واضحه نه وو فرمائيلي، په دې وجه هغه سعادت مند مريد د خپل مرشد په حکم باندي عمل کولو او لنګر به ئې تقسيمولو او ېخپله به ئې ترينه يوه نوړئ هم نه خوړله. ټوله ورځ به ئې روژه وه او د ځنګلي ونو په ميوو، پانړو، او ګلونو باندي به ئې روژه ماتے [يعني افطار] کولو. څه وخته پورې دا سلسله جاري وه د دې مجاهدے په وجه ئې وجود ډير زيات کمزورے شو. چي حضرت بابا فريد الدّين مسعود ګنجِ شکر رَحْمَةُاللہِعَلَيْه د خپل سعادت مند مريد او خوَرَئي دا کيفيت اوليدلو نو تپوس ئې ترينه اوکړو: ته چي لنګر تقسيموے نو ېخپله هُم ترينه څه خوراك کوے او که نه؟ سعادت مند مريد په ښکته نظر او په ډير ادب سره عرض اوکړو: محترمه او قدردانه! تاسو را ته حُکم فرمائيلے وو چي په نورو طعام خوره، نو ما دومره جُرأَت چرته کولے شو چي د خپل مرشد د اجازت نه بغير يوه دانه هُم اوخورم؟ حضرت بابا فريد الدّين مسعود ګنجِ شکر رَحْمَةُاللہِ عَلَيْه چي دا جواب واوريدلو نو خپل خورَئے او سعادت مند مريد ئې سينے ته راجوخت کړلو او د "صابر" لقب ئې ورکړو. (فيضان حضرت صابر پاك، ص۲)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د حضرت بابا فريد الدّين مسعود ګنجِ شکر رَحْمَةُاللہِعَلَيْه د دربار نه د صابِر لقب حاصلوونکے کامل مريد د

سلسلۂ چشتيه صابِريه باني حضرت سيّد علاءُ الدّين علي احمد كَلْيَرِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه دے.

## د تهجّدو په وخت كښې پيدائش

**هغوئي** رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په 19 ربيع الاوّل 592ھ بمطابق 19 فروري 1196ء په (افغانستان) هِرات كښې د زيارت په ورځ د تهجّدو په وخت كښې پيدا شو. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه حَسني سيّد وو او د پيرانِ پير غوثِ اعظم دستگِير رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د اولاد نه وو. حضرت سَيِّدُنا ابوالقاسم گرگاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د هغوئي په غوږ كښې اذان اوكړو او اوئې فرمائيل: دا بچے به قُطبِ عالَم جوړيږي. (فيضان حضرت صابر پاك، ص۳-۵ملتقطا)

## په خوب كښې زيرے

**منقُول دي** چې د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د ولادت نه مخكښې حضرت سَيِّدُنا عَلِـيُّ الْمُرتَضٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په خوب كښې تشريف راوړلو او حُڪم ئې اُوفرمائيلو چې د دوئي نوم "**علي**" كيږدئ، بيا نبي اكرم، سركارِ دوعالَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب كښې تشريف راوړلو او حُڪم ئې اُوفرمائيلو چې د دوئي نوم "**اَحمد**" كيږدئ. دغه شان د هغوئي نوم **علي احمد** كيښودے شو. د هغوئي د پيدائش نه پس يو بزرگ د هغوئي د والد محترم سره ملاقات د پاره راغلو او هغوئي ته ئې چې اوكتل نو اوئې فرمائيل: "**دي ماشوم ته به علاءُ الدّين**" وئيلے كيږي. (حضرت مخدُوم علاءُ الدِّين على احمد صابر كليرى، ص ۴۲ مُلَخَّصاً) د

هغوئي ماما حضرت سَيِّدُنا فريد الدّين گنج شکر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي له د صابر لقب ورکړے وو (فیضانِ حضرت صابر پاک ص۵) هُم دا وجه ده چې هغوئي د "علاءالدّين علي احمد صابر" په نوم باندې مشهور شولو.

## د الله پاك نوم ورزده کړئ

**اے د اولياؤ عاشقانو!** د پئيو د ماشومانو په مخکښې هر وخت **الله الله** وئيل پکار دي د پاره د دې چې کله هغوئي خبرې شروع کوي چې ورومبے ئې په خُله د "**الله**" نوم ادا شي.

اعلیٰ حضرت امام شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (ماشومانو ته) د خبرو زده کولو په وخت کښې "الله، الله" او بيا پورا کلمه طيبه: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌرَّسُولُ اللّٰهِ زده کوئ. (اولاد کے حقوق، ص۲۰)

صحابي ابن صحابي ،جنّتي اِبنِ جنّتي حضرت عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دے چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "د خپلو بچو په ژبه د ټولو نه مخکښې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وئيل ادا کړئ." (شعب الايمان، باب في حقوق الاولاد، ۶/۳۹۷، حديث ۸۶۴۹)

**شيخِ طريقت،** اميرِ اهلسنّت بانئ دعوتِ اسلامي حضرت علامه مولانا محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خپلي نمسئ د پاره د کور ټولو خلقو ته فرمائيلي وو چې د دې په مخکښې "د **الله الله** ذکر کوئ چې د دې د ژبې نه اولنے لفظ د "**الله**" ادا شي او چې کله به ئې

هغه نمسئ د دوئي خواه ته راوستله نو دوئي به هم د هغې په مخکښې **د الله ذکر** کولو. چنانچه هغې چې کله خبرې شروع کړې نو اولنے لفظ ئې د ”**الله**“ ادا کړو. (تربيتِ اولاد، ص۱۰۰)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د تهجدو پابندي

**حضرت** سَیِّدُنا علاءُالدین علي احمد صابر **کَلْیَرِي** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د شپږو کالو نه باقاعده د ظاهري او باطني ادابو سره لمُونځ کول شروع کړي وو او داسې هم وائي چې د ووه کالو په عمر کښې ئې د **تَهَجُّد** لمُونځ هم شروع کړے وو. د الله پاك په عبادت کښې به هر وخت مشغول وو. بلکه د **تَهَجُّد** د لمانځه نه پس به اکثر د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د کوټے نه د **الله** د ذکر آواز اراتللو. (فيضانِ حضرت صابر پاك، ص۸)

## په کم عمر کښې د روژے نيولو معمول

د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د وړوکوالي نه د روژے نيولو معمول وو او د مسلسل روژے نيولو دا عادت ئې د آخري عمر پورې وو. (فيضان حضرت صابر پاك، ص۹)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مار به چيچل نه کوي

د هغوئي والدِ محترم رَحْمَةُاللہِ عَلَيْه يوه ورځ سترګي پټي کړي وے او په مراقبه کښې مشغول وو چي ناڅاپه د مرِ مار يوه ټکړه په هغوئي رَحْمَةُاللہِ عَلَيْه او بله ټکړه په زمکه راپريوتله. نو هغوئي د صابر پيا رَحْمَةُاللہِ عَلَيْه والده د هغه مړ مار طرف ته مُتَوَجِّه کړه، هغي چي مار دوه ټُکړے شوے اوليدلو نو حيرانه شوه او اوئي فرمائيل: چي آيا زه خوب وينم؟ حضرت سَيِّدُنا صابر پيا رَحْمَةُاللہِ عَلَيْه د خپلي مور شك لرې کولو د پاره اوفرمائيل: ما د مارانو بادشاه مړ کړے دے او د مارانو نه مي دا وعده اخستي ده چي زما د خاندان يو کس به هم نه چيچي. (فيضانِ حضرت صابر پاك، ص۱۱)

## په درې کاله کښي د علومِ ظاهري تکميل

**د هغوئي** رَحْمَةُاللہِ عَلَيْه والد صاحب چي وفات شولو نو مور ئي هغوئي خپل وررور حضرت بابا فريدُ الدّين مسعود ګنجِ شکر رَحْمَةُاللہِ عَلَيْه ته حواله کړو. هغوئي د **الله** پاک د ورکړي صلاحيت په وجه صرف د درې کاله مختصر وخت کښي ډير ظاهري علوم حاصل کړل، حضرت بابا فريد الدّين رَحْمَةُ اللہِ عَلَيْه فرمائي: علاءُ الدّين علي احمد صابر رَحْمَةُاللہِ عَلَيْه په درې کاله کښي د عربئ و فارسئ د فِقهه کتابونه، د حديث، تفسير، منطِق و مَعاني وغيرها علوم مکمل کړل. دا ټول علوم ئي دومره زر حاصل کړل چي بل ماشوم ئي په پينځلّس کاله کښي هم نه شي حاصلولے. (حضرت مخدوم علاء الدّين علي احمد صابر پيا کليري، ص۴۸ ملتقطاً)

## د نیکه د وفات خبر ئې مخکښې نه ورکړو

په وړوکوالي کښې یوه ورځ صابر پیا **کَلْیَرِي** رَحْمَةُاللهِعَلَيْه حضرت بابا فرید الدّین ګنجِ شکر رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ته عرض اوکړو: چې د نن نه درې کاله پس به زما نیکه وفات کیږي. بابا فرید الدّین رَحْمَةُاللهِعَلَيْه چې دا واوریدل نو اوئې فرمائیل: بچیه! ستا نیکه خو په بَغداد شریف کښې دے او ته دلته؟ (نو بیا تا ته څنګه معلومه شوه چې درې کاله پس به داسې کیږي) عرض ئې اوکړو: اوس ما د خپل زړه طرف ته اوکتل نو د بابا جان صورت مې مخې ته راغے او هغوئې د ښې لاس درې ګوتې زما طرف ته اوچتې کړې، نو دا د (بابا جان د) وفات اشاره وه. حضرت بابا فرید الدّین ګنجِ شکر رَحْمَةُاللهِعَلَيْه چې د هغوئی دا فراست (یعني پوهه) اولیدله نو سینے ته ئې راجوخت کړو. (تذکرۂ حضرت صابر کلیر، ص۳۶ملخصاً)

ہر ولی کا واسطہ عطار پر کیجئے رحمت اے نانائے حسین

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خلافت عظیم الشّان محفل

په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د تَهَجُّد د لمانځه نه پس حضرت بابا فرید الدّین ګنجِ شکر رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د څه وخت د پاره آرام کولو نو سترګې ئې پټې شوے. هغوئې رَحْمَةُاللهِعَلَيْه اولیدل چې زه د خپل پیر و مرشد خواجه بختیار کاکي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه سره په یو داسې د انوارو نه ډک مقام کښې موجود یم چې

هر طرف ته نُور او نُور دے. يو عظيم الشّان محفل دے، د الله پاك آخري پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما دے. ورسره د سلسله چشتيه ټول بزرګان د خپلي مرتبے په حساب په خپل خپل ځائے ناست دي. د حضرت بابا فريد الدّين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پير و مرشد حڪم اوکړو: مخدوم علي احمد (صابر) د **د حُضُور رحمتَ عالَم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښي پيش کړئ. هغوئي د خپل مرشد د حڪم مطابق حضرت سَيِّدُنا علي احمد صابر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دربارِ رِسالت کښي پيش کړو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت صابر پيا کليري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ښيځ اوګه باندي ښکل کړو او اوئي فرمائيل: ”**هٰذَا وَلِيُّ الله**“ يعني دا د الله پاك ولي دے۔ د هغي نه پس موجودو ټولو بزرګانو او فرښتو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ادا باندي د عمل کولو په نيت هُم هغه ځائے ښکل کړو او فرمائيل به ئي: ”**هٰذَا وَلِيُّ الله**“بيا د هر طرف نه د مبارك باد سلسله شروع شوه. د مبارکباد په هغه آواز د بابا فريد الدّين ګنجِ شکر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سترګي اوغړيدلي.

**صبا** له حضرت بابا فريد الدّين ګنجِ شکر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو عالي شان محفل اوکړو، چي په هغي کښي شيخ ابو الحسن شاذلي، حضرت شيخ حميد الدّين ناګوري، حضرت شيخ بهاءالدّين زکريا ملتاني، حضرت شيخ ابو القاسم ګرګاني رَحِمَهُمُ الله سره سره نور ډير علماء او اولياء شريك شول. حضرت بابا فريد الدّين ګنجِ شکر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ټولو په وړاندي خپل خوب بيان کړو د دي په اوريدلو هلته موجودو ټولو بزرګانو په نمبر نمبر د

حضرتِ سَیِّدُنا صابِر پیا **کَلْیَرِي** رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ هغه مُهرِ ولایت ښکل کړو او وئیل به ئې ''**هٰذَا وَلِیُّ الله**'' او مبارکي به ئې ورکوله. د هغې نه پس حضرت بابا فرید الدین ګنج شکر رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ هغوئي ته د خاندانِ چشتیه امامت و خلافت ورکړو او په خپلو لاسو مبارکو ئې ورته خپله بابرکته ټوپۍ په سر کړه او د شین پټکي په ذریعه ئې د هغوئي دستار بندي اوکړه او بیا ئې د کَلْیَر ښار د وِلایت او خلافت سند د ټولو حاضرینو په وړاندې واورولو او هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ته ئې ورکړو. (تذکرۂ حضرت صابر کلیر، ص۴۷ ملخصاً)

## د لمُونځ سره محبت

هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د لمُونځ سره ډیر زیات محبت وو او د دې محبت وجه هغوئي دا بیان کړې ده چې: لمُونځ خومره ښه خیز دے چې د حاضرۍ په برکت ئې دربارِ اِلٰهي ته راوستي یُو (یعني لمُونځ د الله پاك په بارګاه کښې د حاضرۍ د سبب جوړیدلو په وجه بهترین عبادت دے). (تذکرہ صابر کلیر، ص۸۲ملخصاً)

د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ لباس کُرته، تهبند [یعني لَنګ] او عمامه شریفه وه.

(حضرت مخدوم علاء الدین علي احمد صابر کلیری، ص۸۰ملتقطاً)

## باعمامه [یعني پټکي کښې] اوسیدل د عقلمندۍ نښه ده

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** عمامه شریفه[پټکے] د سر زینت، د سنّتو د پابندۍ علامت، د مؤمن عزّت او د علماء، فُقَهاء او بزرګانِ دین رَحِمَهُمُ الله شان دے، او د دې پرېښودل سبب د نقصان دے، جنّتي صحابي حضرت سَیِّدُنا واثِله بن اَسقَع رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: **د ورځې سر پټول**

عقلمندي ده. (كنز العُمال، كتاب المغيشة و العادات، فرع فِي العمائم، جزء ۱۵، ۱۳۳/۸، حديث ۴۱۱۳٦ مختصراً)

حضرت علامه ابن جوزي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د عقلمند سړي نه دا خبره پټه نه ده چي سر تور سر اوسيدل ښه عادت نه دے، ځکه چي په دې کښې بے ادبي او د مروّت خلاف ورزي هم ده.(تلبيس ابليس الباب العاشر فِي ذِكر تلبيسه عل الصوفية الخ، فصل فِي ذِكر الادلة على كراهة الغنا الخ ص ۳۱۹)

**خوږو اسلامي وروڼرو!** مونږ له هم پکار دي چي صرف د لمونځ په وخت کښې نه بلکه هر وخت عمامه شريفه په سَر كوو په دې كښې ډير برکتونه دي د **الله** پاک آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **اِعْتَمُّوا تَزْدَادُوا حِلْمًا** يعني عمامه په سروئ، ستاسو حِلم به زياتيږي. (مُعْجَم كبير، عبدالله ابن العباس، ۱۷۱/۱۲، حديث: ۱۲۹۴٦)

**حضرتِ** عَلَّامه عبدُ الرَّؤُوف مُناوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديث پاك لاندې فرمائي: (عمامه په سروئ) ستاسو حِلم به زياتيږي او سينه به مو فراخه کيږي ځکه چي ظاهري وضع قطع [لباس] ښه ساتل انسان باوقاره او سنجيده جوړوي او ورسره د غصے نه او جذباتي كيدلو او سپکو حرکتونو نه هم بچ کيږي. (فيض القدير، حرف الهمزه، ۷۰۹/۱، تحت الحديث: ۱۱٤۲)

ان کا دیوانہ عمامہ اور زلف وریش میں　　واہ! دیکھو تو سہی لگتا ہے کتنا شاندار

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# معمولاتِ مباركه

**هغوئي** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به شپه ورځ د الله پاك په ياد كښې تيروله، د خلقو د صُحبت نه به ئې ځان لرې ساتلو، اكثر به خاموشه اوسيدلو، د هغوئي په خاموشئ كښې هم يو كشش وو او چې كله به ئې څه فرمائيل نو فقط په يوه جمله كښې به ئې د ډيرو سوالونو جوابونه وركول. خپل كرامتونه به ئې پټول، كه چا به د هغې [يعني د هغوئي د كرامتونو] ذكر كولو نو په ښه طريقه به ئې نظر انداز كولو، هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه تارِكُ الدُّنيا (يعني دنيا نه خوښولو والا) بُزُرګ وو او د خلقو اصلاح به ئې ضرور كوله، د دې صفتونو په وجه هغوئي د دُنيا يوه رنړا وو. (حضرت مخدوم علاءُ الدّين علی احمد صابری كلیَری ص ۸۱ ماخوذاً)

غوث و خواجہ داتا اور احمد رضا سے — بھی اور ہر ولی سے پیار ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! — صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# محبوبِ الٰهي او حضرت صابر پاك

محبوب الٰهي حضرت سَيِّدُنا محمد نظام الدين اولياء رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به د حضرت صابر پيا ډير زيات احترام كولو. د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د خوا نه به چې څوك د صابر پيا باركاه ته تلل نو هغوئي ته به ئې د ډير زيات احترام تاكيد كولو او ورته به ئې فرمائيل: چې يوه خبره هم د هغوئي د مزاج خلاف اونكړئ. دې دواړو بزرګانو به يو بل سره ډير زيات مَحبَّت كولو. (سير الاقطاب، ص ۲۰۰)

# مُرشِدِ کامِل او مُرِیدِ کامِل

کله چې حضرت سَیِّدُنا شمسُ الدِّین تُرك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د فیض حاصلولو د پاره کَلْیَر شریف ته حاضر شو نو هغه وخت دوئي د یوے وني لاندې په عبادت و ریاضت کښې مشغول وو، لهٰذا شمس الدین رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هم د یوے وني لاندې کښیناستلو او د قران پاك تلاوت ئې شروع کړو، کله چې دا خوږ آواز د صابر پیا کَلْیَرِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په غوږ اولګیدلو نو هغه طرف ته مُتَوَجِّه شو او د کوم ځائے نه چې آواز راتللو هغه ځائے طرف ته روان شو، کله چې حضرت شمس الدین رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د قرآنِ پاك تلاوت ختم کړو او سر ئې اوچت کړو نو دوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ئې هلته موجود اولیدلو نو اوپیژندلو. خو دوئي ورته ډیر په نرمئ سره اوفرمائیل: ”شمس! ولے یریږے، مونږه ستاسو نه ډیر خوشحاله یُو.“ او بیا ئې هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خپلو مریدانو کښې شامل کړو او په خپلو لاسو مبارکو ئې ورته دستار بندي اوکړه. هغوئي [یعني شمسُ الدِّین تُرك] رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د ډیر وخته پورې د خپل مرشد په خدمت کښې وو، د اوداسه او خوراك انتظام به ئې ورته کولو او دغسې هغوئي د خپل مرشد خادم جوړ شولو. (تذکرہ اولیائے پاك و هند، ص۷٦ ماخوذاً)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## شمسُ الدّين زما دوست دے

د **حضرت** سَيِّدُنا صابر پيا **كَلْيَرِي** رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ د ژبې نه وتلي خبره به ډيره زر د **الله** پاك په بارګاه كښې قبليدله، په دې وجه د هغوئي رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ لقب سيفِ لِسان هم دے. يو ځل دوئي رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ حضرت سَيِّدُنا شمسُ الدِّين تُرك رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ د اوبو راوړلو د پاره اوليږلو چې په هغې كښې لږ ناوخته شو، چې هغوئي رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ واپس راغلو نو د حضرت صابر پيا **كَلْيَرِي** رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ د ژبې مباركې نه دا جملے ادا شوے: د يوے پيالۍ اوبو راوړلو د پاره دومره ډير وخت؟ شمس الدّين! آيا ته نه وِينے؟ [يعني نظر دِ نه لګي؟] څنګه چې دوئي پياله واخستله او د اوبو څښلو د پاره كښيناستلو نو د شمس الدين ترك رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ د خُلے نه د درد نه ډك يو آه اُووتلو او فوراً ئې عرض اوكړو: ”حضورا! زه خو ړوند شوم.“ حضرت صابر پيا **كَلْيَرِي** رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ چې دا اوليدل نو په سجده پريوتلو او د **الله** پاك په بارګاه كښې ئې عرض اوكړو: ”يا الله! شمس خو ستا د دې ګنهګار بنده دوست او واحِد [يعني صِرف يو] ملګرے دے، ته په ده باندې رحم اوكړې“ دُعا ختميدلو سره سمدستي د حضرت شمس الدّين رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ نظر بيرته صحيح شو. (فيضانِ حضرت صابر پاک، ص ۳۸)

## د نظرِ صابر انتخاب

**هغوئي** رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ به حضرت سَيِّدُنا شمسُ الدِّين رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ سره ډير زيات محبت كولو، يو ځل هغوئي رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ اوفرمائيل: ”اے شمسه! ته زماځوئ

ئي، ما د خُدائے نه دا سوال کړے دے چې زما سلسله دِ ستا نه جاري شي او د قيامته پورې دې جاري اوسي.“ (تذکرۃالاولیاپاک وھند، ص۲۷)په آخري عمر کښې هغوئ رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ په خپلو لاسو مبارکو خلافت نامه اوليکله او حضرت شمس الدين ترك رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ته ئې خلافت ورکړو او د پاني پت صاحبِ وِلايت ئې مقرر کړو. او اِسمِ اعظم چې د بزرګانو نه سينه په سينه راروان وو د هغې تلقين ئې ورته اوکړو او دا وصيّت ئې ورته اوکړو چې ”د درې ورځو نه زيات دلته مه پاتې کيږه، اللّٰه پاك تا ته د پاني پت ولايت درکړے دے، هلته اوسه او د نافرمانه خلقو د اصلاح کوشش کوه، زه به هر ځائے کښې ستا مُعاوِن يم.“ حضرت شيخ شمس الدين رَحۡمَۃُ اللّٰہِعَلَیۡہ د خپل مرشد په بارګاه کښې عرض اوکړو: حضورا! زما خو دا اراده وه چې باقي عمر به ستاسو په آستانه کښې جارو وهَم او خدمت به کووم. او اوس ستاسو حکم دے چې پاني پت ته لاړ شه. خو هلته شيخ شرفُ الدين بُو علي قلندر پاني پتي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ موجود دے، معلومه نه ده چې هغوئ به ما سره څنګه تعلق ساتي؟ هغوئ رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ اوفرمائيل: فکر مه کوه، ستاسو رسيدلو سره به سمدستي هغوئ د هغه ځائے نه لاړ شي.

(فیضانِ حضرت صابر پاك، ص۳۹)

## وفات شريف

هغوئ رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ يوه ورځ شمس الدين تُرك رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ته اوفرمائيل: چې کله ستاسو نه کرامت ظاهر شو نو پوهه شه چې زه وفات شوے يم.

کله چې د حضرت شمس الدين رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ نه کرامت ظاهر شو نو فوراً **کَلْیَر** شريف ته حاضر شو، حضرت صابر پیا **کَلْیَرِي** رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ په 13 ربيع الاوّل690ھ بمطابق15 مارچ 1291ء وفات شوے وو او حضرت شمس الدين ترك رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د کفن دفن خدمت اوکړو. د هغوئي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ مزار شريف په **کَلْیَر** شريف ضلع سهارنپور (یُو پي) هند کښې د نهر ګنګ په غاړه دے. (فيضانِ حضرت صابر پاك، ص٤١)

## د مزار بےحرمتي کولو فوراً سزا

د حضرت صابر پیا **کَلْیَرِي** رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د مزار شريف په خوا **یو** کافر تيريدو، هغه چې کله اوکتل چې په مزار شريف کښې څوك نشته نو نيّت ئې خراب شو او د مزار شريف شهيد کولو او د هغې په ځائے ئې د خپلې عبادت ګاه جوړولو په نيت ئې تيشئ (يو قسم اوزار) راواخستو نو د هغه تَوجُّه د مزار شريف روشن دان طرف ته لاړه نو په تَجَسُّس [يعني دننه کتلو د پاره چې څه دي، د دې د پاره ئې] پکښې بنکته کتل غوښتل، خو سر ئې پکښې اونښتو او د ساه بنديدو په وجه مړ شو. د شپے د مزار د خدمتګارانو په خوب کښې حضرت صابر پیا **کَلْیَرِي** رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ تشريف راوړو او اوئې فرمائيل:"**يو کس د ګستاخئ په نيت مزار ته راغلے وو هغه ته سزا خو ميلاو شوه خو اوس هغه د مزار په روشن دان کښې زوړند دے راشئ او هغه اوباسئ.**" سحر له هغه خدمت ګاران د خپلو

ملګرو سره مزار ته حاضر شولو، او هغه کافر ئي بهر را اوباسلو او د هغه مرے ئې په ځنګل کښې اوغورزولو. (تذکرہ اولیائے برّ صغیر، ۲/۵ملخصاً)

اللہ غنی! شان ولی راج دلوں پر     دنیا سے چلے جائیں حکومت نہیں جاتی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!     صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو اسلامي ورونړو!** اوليائے کرامو رَحِمَہُمُ اللہ سره بُغض و عداوت لرلو او د هغوئي ګستاخي کولو کښې هيڅ خير نشته بلکه د دنيا او آخرت بربادي ده

حضرت عَلّامه اِبنِ عابِدِين شامي رَحمۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي:**اولياءالله** د الله پاك په بارګاه کښې ډيرې درجے لري او خپلو مزاراتو ته راتلونکو خلقو ته د خپلو کمالاتو مطابق فائده ورکوي. (ردّ المحتار، کتاب الصلاۃ، مطلب فی زیارۃ القبور، ۳/۱۷)

جو ہو اللہ کا ولی اس کا     فیض دنیا میں عام ہوتا ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!     صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## حضرت صابر پیا کَلْیَرِي رَحمۃُ اللہِ عَلَیْہ

## اميرِ اهلسنّت ته سلام را ليږلے وو

صَفَرُ الْمُظَفَّر سن 1441ھ بمطابق اکتوبر 2019 کښې د عاشقان رسول مدني تحريك دعوتِ اسلامي د مرکزي مجلسِ شورىٰ رُکن حاجي وقارُ

المَدينه عطاري ته يو كرنل صاحب صوتی (آډيو) پيغام را اوليږو. (د هغې خلاصه دا ده چې) ما په خوب کښې د حضرت صابر پيا كَلْيَرِي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ ديدار اوکړو هغوئي ماته په خوب کښي دوه ځله ارشاد اوفرمائيل: "الياس قادري ته زما له طرفه سلام وايه" او دا ئې هُم راته اوفرمائيل چې: زما سره ډير بزرګان دي او هغوئي ټول هُم (الياس قادري ته) سلام وائي، او دا ئې هُم راته اوفرمائيل چې: "**هغوئي ته دِ تندرستي مبارك شي**".

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** د ښو خوبونو ډير زيات اهميت وي، چنانچه بخاري شريف کښې دي: د الله پاك حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: د نُبُوَّت نه د مبشّراتونه علاوه باقي هيڅ پاتي نه دي نو صحابه كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوكړو: "مبشّرات څه ته وائي"؟ نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: ښه ښه خوبونه چې مسلمان ئې پخپله د ځان د پاره اُووِيني يا ئې بل څوك د هغه د پاره اُووِيني. (صحيح البخاری، ج٤، ص٤٠٤، حديث:٦٩٩٠)

تمہارا فضل ہے جو میں غلامِ غوث و خواجہ ہوں
نہ ہو کم اولیاء کی دل سے اُلفت یا رسول اللہ

(وسائلِ بخشش ص 330)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې کیدونکې د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنّتو د تربیّت د پاره **مَدَني قافلو** کښې عاشقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com